مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

استاد شهسوار سنګروال ۲۰۱۹/۰۲/۱۱

د تاریخ یوه پاڼه:

# روسي ته تللي پلاوي باید له روسانو پوښتي واې، افغانستان چا ډېر وران کړ؟

د مجاهدینو یو شمېر تنظیمي مشرانو چې ډېرې پیسې او وسلې تر لاسه کړې وې په ۱۹۸۳ کال یې دI.S.I په سپارښتنه پراخ عملیات لومړی له پاکستان سره په پوله پراته ولایتونو او سیمو کې پیل کړل.
د آزادو قبایلو په نوم چې کومې سیمې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته پرتې وې وځپلې.
له یوې خوا د پاکستان هیواد خپل ملېشایي ځواکونه را وړاندې کړل هلته دایمي قرار ګاوې جوړې کړې، او له بلې خوا یې د مجاهدینو عملیاتو ته پراختیا ورکړه. په همدغه کال یې په خوست، اورګون او ځاځیو کې خونړي عملیات شروع کړل، «د اورګون په جګړه کې د درندې توپخانې په کارولو او د توغندیو پر مټ سیال لوری تر اور لاندې ونیول شو او د «۷۰» ضد هوایي توغندیو په ویشتلو چې په دې لړ کې ۱۲/۷ میلي متری او ۱۴/۵ میلي متری وو.»[1] په پرلپسې توګه دغه بریدونو دوام وکړ.
د مجاهدینو دغه بریدونه چې غوښنه برخه یې له ۱۹۸۰ ز کال نه پیل شوه یو د بل پسې ډېرې بریاوې تر لاسه کړې.
د انتوني هی من د څرګندونو له مخې (افغانستان... ۱۹۹ مخ) مجاهدینو د ۱۹۸۰ کال په نیمایي کې ۴۲ سیمې ونیولې چې یوازې د دوی واک په کې چلېده او له مرکزي حکومت سره یې اړیکه پرې شوې وه.
شوروي اتحاد په ۱۹۸۰ کال د افغانستان په اوه (۷) سیمو کې پراخ عملیات پیل کړل، د دې لامل دا و چې یو شمېر ښارونه د مجاهدینو کلابندۍ کې ول.
شوروي پوځونو په ۱۹۸۱ کال په بلخ، کندهار، لوګر، د کابل په پغمان او پنجشېر کې خونړي عملیات شروع کړل.
د جمعیت اسلامي مجاهدینو چې د بګرام هوایي ډګر یې، کله کله په خپلو توغندیزو بریدونو ګواښه نو په دې بنسټ شوروي ځواکونو د پنجشېر دره تر اور لاندې ونیوله او دواړو لورو ته درانه تلفات ورسېدل.
د ۱۹۸۲ کال په پیل کې شوروي او افغان ځواکونو په ګډه د ننګرهار په سرحدي سیمو ځمکني او هوایي عملیات چې ان د ډیورنډ د کرښې پورې غاړې وګواښلې په کار واچول.
دغه عملیات هغه مهال چټک شول چې یوه شوروي پلاوي له یوې نوې ستراتېژۍ سره د ډسمبر په میاشت (۱۹۸۱ کال) کې کابل ته راغی او یو شمېر جبېټ او څرخي الوتکې دېته چمتو کړې چې د ځمکنیو عملیاتو څارنه او ملاتړ وکړي.
امریکا او پاکستان هم د مجاهدینو د ملاتړ لپاره په دې پلمه چې ګني له خپلو سرحداتو نه ساتنه کوي اف ۱۶ جنګي جبېټ الوتکې را پورته کړې او سیال لوري ته یې خپل زور وښود.
ولې بیا هم د برېتانیا د نامتو تاریخپوه «مارک اوربان» په اند د شوروي پوځونو عملیات بریالي ول. ښایي همدا لامل به و چې په ۱۹۸۲ کال د مې په میاشت کې په پنجشېر باندې درانه عملیات پیل کړل او یو د بل پسې، عنابه، د شتک، رخه، بازارک، هستانه، دوابه او ان تر خنجه پورې پرمختګ وکړ، مسعود او د هغه جنګیالي یې وځغلول.
د جنرال تپ – ګریګوریانت له قوله چې د دغو عملیاتو مشري یې په غاړه وه، وایي:
«په دغه برید د احمد شاه مسعود جنګیالیو ته درانه تلفات واوښتل. دغه جګړه دومره درنه وه چې زموږ په جګړه ییزو عملیاتو کې ساری نلري»[2]
داسې نه وه چې په دغو جګړو کې یوازې مجاهدینو ته مرګ ژوبله اوښتې وه، بلکې شوروي او افغان پوځونو ته هم ډېر هر اړخیز ځاني او مالي زیانونه رسېدلي ول چې موږ یوازې د بېلګې په توګه د پراودا Pravda د څرګندونو له مخې د شوروي ځواکونو د وژلو یادونه کوو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«له ۱۹۸۰ نه تر ۱۹۸۲ پورې ۵۲۷۰ تنه یوازې په ۱۹۸۴ کال ۲۳۴۳ تنه او په ټوله کې چې کوم ځمکني او هوايي بشري ځواکونه د افغانستان په جنگ کې له مینځه تللي دي لږ تر لږه ۱۳۳۱۰ تنو ته رسیږي.»[3]
که په افغان او روس جگړه کې هر لوري ته ډېره مرگ او ژوبله اوښتې ډېره گټه یې پاکستان او امریکا ته رسېدلې ده. پاکستان خپل تاریخي دښمن افغانستان کمزوری کړ. او امریکا بیا د ویتنام د جگړې کسات له شوروي اتحاد نه واخست او د افغانانو په قرباني یې شوروي په گونډو کړ.

**۲-شوروي ولې له مجاهدینو سره، روغې جوړې ته غاړه کېښوده؟:**
په ۱۹۸۵ کال د گورباچف له ټاکلو وروسته ډېر زر C.I.A ډېرې پرمختللې وسلې او جگړه ییز توکي افغان مجاهدینو ته په واک کې ورکړل چې د شوروي اتحاد په نوي ولسمشر میخایل گورباچف فشار، راوړل شي چې امریکا د خپلو سیاسي موخو لپاره ډېر امتیازات ترلاسه کړي.
I.S.I د سي آی اې د سپارښتنې له مخې د مجاهدینو اوه گوني تنظیمي مشرانو ته وسلې او مهمات په تېره بنسټپالو ته په واک کې ورکړې. خو په ځانگړي ډول د اسلامي گوند امیر گلبدالدین حکمتیار او د اسلامي جمعیت تنظیم مشر برهان الدین رباني له هر بل تنظیم نه ډېره ونده ترلاسه کړه.

ستیو کول په خپل کتاب کې د گاري «هارټ» له خولې کښلي دي چې:
«هغه پیسې او وسلې چې د کانگرس لخوا هر کال په پټه مجاهدینو ته تهیه کېږي په پرتلیزه توگه لس برابره زیات یې شوروي ته زیان رسوي او د هغوی جگړه ییز توکي له مینځه وړي.»[4]
کومې وسلې چې افغان جنگیالیو ترلاسه کولې د جهاد او له هېواد نه د دفاع په پلمه، د امریکا او پاکستان له توقع او غوښتنې نه څو برابره زیات یې په خپلو قربانیو سره، د دښمن پر وړاندې کارولې او سیال لوري ته یې پوځي، اقتصادي، او سیاسي زیانونه اړول.
هغه د گاري هارټ خبره چې د امریکایي سناتور د «پاټریک موینیهن» د هغې پوښتنې پر وړاندې چې:
څنگه له دغو خلکو سره مرسته کوئ چې په پای کې به ټول د شورویانو لخوا له مینځه لاړ شي؟
ځواب: هغوی لکه [د دویمې نړیوالې جگړې پر مهال] د وینسټن چرچل په څېر مور ته وایي چې:
وسایل (جگړه ییز توکي) راکړئ، مونږ خپله دنده پخپله تر سره کوو.»
گورباچف له داسې یوه سیاسي او پوځي دښمن سره لاس او گرېوان وه چې د ورځې لسگونه جنازې یې شوروي پوځیانو په سترگو لیدلې.
هغسې نه وه چې روسي ځواکونه پدغه مرگوني جگړه کې په افغان جنگیالیو رحم کړی دی، بلکې نه یوازې مجاهدینو ته یې درنه مرگ ژوبله اړولې وه بلکې د افغانستان اولس ته یې هم هر اړخیزه ځاني او مالي زیانونه اړولي چې څو بېلگې یې داسې دي:

۱-په کور کلي کې چې کوم کورونه له درنې بمبارۍ سره سره او د شوروي ځواکو په بریدونو له مینځه تللي دي: ۱۰۴۵۲۱۲.
۲- په کور کلي کې چې کوم جوماتونه ړنگ شوي دي: ۱۱۴۱۸.
۳-کوم ښوونځي چې د دوړو غاړو په بریدونو کې له مینځه تللي دي: ۳۳۶۱.
٤-هغه ښاروي یوازې پسونه او... چې د هېواد په کچه مړه شوي دي: ۶۵٪
۵-د قره قل پسونه چې د هېواد سوداگریز توکي ول: ۶۷٪
۶-نور بېلابېل ښاروي چې له مینځه تللي دي: ۸۳٪

همدا راز افغانانو ته مرگ ژوبله هم اوښتې ده، چې له بابته یې د پنځه میلونو په شاوخوا کې افغانان بهرنیو هېوادونو په سر کې پاکستان او ایران ته کډه شول.
شوروي چارواکي او په سر کې گورباچف په دې پوهېده چې امریکا او شوروي ضد متحدینو، ټوپک د افغان مجاهدینو په اوږه ایښی او شوروي اتحاد یې د گوزار نښه گرځولې دی.
د امریکا متحده ایالاتو خپل دښمن شوروي په داسې ځای کې تر گروټ لاندې نیولی وه. چې ویتنام ورته گوته په خوله وو. گاري هارټ هم په بېړنۍ توگه نه یوازې په پاکستان کې د ننه له تنظیمي مشرانو او د ستونزو سره سره یې افغانستان ته د ننه، نه یوازې د ورځې لخوا بلکې د شپې په ناوخته به له قومندان عبدالحق سره د ډېورنډ له کرښې را پورېووت او د مجاهدینو مورچلې به یې کتلې.
گورباچف د دې لپاره چې د شوروي ځواکونو، وینې تویونې ته د پای ټکی کېږدي، لومړی یې غوښتل چې د ملکرو ملتو له لارې د افغانستان د کړکېچ د حل لارې چارې ولټوي او له ډیپلوماتیکو لارو خپلې موخې ترلاسه کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دويم دا چي، نوموړي ببرک کارمل ته په ټينګار سره وويل چي په حکومت کي هغو کسانو ته ځای ورکړي چي هغوی د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند غړي ندي.
کارمل د يوه غولوونکي سياست له مخي يو شمېر کسان چي په ګوند کي يي غړيتوب نه درلود په دندو وګمارل، خو ډېر د واک او ځواک څښتن نه ول.
کله چي ګورباچف له يوې خوا په دې پوه شو چي کارمل نه غواړي په بنسټيزه توګه په دولت کي بدلون ته لاره پرانيزي او له بلې خوا د ملګرو ملتو لخوا په هغه زماني جدول خبرې وکړې چي په ژنيو کي په غير مستقيم ډول پر مخ تللې.
په همدې بنسټ ګورباچف د ملګرو ملتو تر فشار لاندې وه چي د شوروي پوځونو د وتلو مهالوېش د خبرو اترو لارې په ګوته کړي. خو کارمل غوښتل چي افغانستان او پاکستان نيغ په نيغه د شوروي ځواکونو د وتلو په تړاو د خبرو، ور پرانيزي.
د شوروي د بهرنيو چارو مرستيال وزير «يولي وارنتسف» د څرګندونو له مخي:
«کارمل غوښتل چي د ژنيو د خبرو بهير پټ کړي او پرېږ نږدي چي په دې اړه خبرو هڅې چټکي پر مخ لاړې شي... .»[5]
د مسکو چارواکو ته دا د ځغم وړ نه وه چي (دورنتسف په اند چي په ۱۹۸۵ کال يي په ډاګه وويل: «کارمل له کاره لاس په سر شوی او د شرابو څکلو ته يي پناه را وړې ده...) له دېنه زيات د ده خبرو ته غوږ مه کېږدي. دا ځکه چي د ګورباچف په شمول دې ټولو د نړيوالو او په سر کي د امريکا سياسي او پوځي فشارونه د سر په سترګو ليدل.
هغه د کاري هارت څرګندوني دي چي وايي:
«موږ په بې ساري توګه د C.I.A د وسلو کاروانونه بېړی بېړی، لاری، لاری ليدل چي افغانستان ته روان ول، نوره خبره له پټېدو وتي وه:
رونالد ريګن په بربنډه توګه ويل چي امريکا د افغانستان د آزادی لپاره له جنګياليو سره مرسته کوي.»[6]
شوروي چارواکي دې پرېکړې ته رسېدلي ول چي نور ځانونه او خپل هېواد د کارمل د واک لپاره نشي خرابولی، د کې جي بي د رئيس وېکتور سپورنيکف د خبرو له مخي «کارمل يو تنبل او بې تحرکه انسان وه.» نو دوی بايد د هغه ځای ناستی په ګوته کړی وی.
لکه څنګه چي امريکا د ويتنام په جنک کي د ۵۸ زرو په شاوخوا کي خپل ځواکونه له لاسه ورکړل او له دغي مرګ ژوبلي سربېره (۱۶۰) مليارده ډالره يي زيان وګاله. همدا رنګه شوروي اتحاد هم سربېره له دې چي ډېر ځواکونه يي له مينځه لاړل، بلکي د جګړي په لومړيو پنځو کلو کي دولس (۱۲) مليارده ډالره زيان وګاله.
ميخايل ګورباچف د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د نورو مشرانو په توپير يو متفکر راډيکال وه او دی په دې پوهېده چي د شوروي اتحاد په سياست کي د اوس مهال لپاره لويه ستونزه په افغانستان کي د شوروي ځواکونو شتون دی.
همدا لامل وه چي په ډېر ټينګار يي د K.G.Bمرستيال «شبار شين» ته سپارښتنه وکړه چي کارمل ته د مسکو د پرېکړې پايله ور په ګوته کړي.
شبر شين له کارمل سره په ليدنه کي دې ټکي ته ګوته نيولي ده چي ما کارمل ته د نړۍ د بدلون په تړاو اوږدي خبري وکړې او ورته ومي ويل اوس دې ته اړتيا ده چي يوازې ځوان رهبر بايد د افغانستان سياسي ډګر ته را ووځي.
«کارمل يو مکار انسان وه. هغه کوښښ کاوه وخت ضايع کړي او زر کابل ته لاړ شي او په دې پلمه چي له خپلو ملګرو سره سلا او مشوره وکړي... کله چي کابل ته لاړ. د کې – جي – بي د بهرنيو اطلاعاتو رئيس «ولاديمير کريچکف» هم ورپسي ورغی او ورته وې ويل کوم توافق چي په مسکو کي شوی وه د خپل نوښت په اړه وغږېږي.
ده چي د مسکو له توافق نه انکار نشو کولی، رنګ يي والوت يو ناڅاپه يي ژبه بنده شوه، په وچو شونډو يي وژړل او وې ويل: ما مړ کړئ، ما قرباني کړئ، زه مرګ، زندان او شکنجي ته حاضر يم. پداسي حال کي چي کريچکف خبري ته يي غوږ نه ايښوده ... بيا يي په هماغه لومړی پايلي ټينګار کاوه.»[7]
شبرشين خپلي خبري په دغو ټکو نورې هم وغځولي چي:
«... په افغانستان کي شوروي سرتېري مري... بيا کارمل په چيغو چيغو وژړل او دغه خبرې يي له خولي وتلې: تاسو وايئ انقلاب له سولي نه قرباني کړئ... شوروي سرتېري افغانستان کي مري؟ موږ پرېږدئ او خپل سرتېري وباسئ! پرېږدئ افغانان له انقلاب نه دفاع وکړي!... کريچکف په ډېر زړه خوږی مسکی شو او وې ويل: تر بيا ليدو... په پای کي کارمل راضي شو چي خپله استعفا ليک مرکزي کمېټي ته وړاندې کړي.»[8]
د ګورباچف په ټينګار کارمل له دندې ګوښه شو چي له مجاهدينو سره روغي جوړې ته ورسېږي. ولي دا چي د کوربه هېواد مشر، جنرال ضياء هم دا هيله درلوده او که نه؟ دا د افغانستان د سياسي کړکيچ بل لوری و چي هر چا ته د پام وړ و.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

[1]- David C. IS by. The Afghan Struggle: New turn “Strategy and Tactics (London)Tanuary (February 1985)”

[2] - Gai “Afghanistan” Vecherniania Moskva [Evening Moskva] Oct.31.1989. P.3.

[3] - Pravda, August 17, 1989 cited in “Afghan Pain” current Digest of the soviet press 41, NO.33, 1989, P.33.

[4]- ستیو کول ۹۳ مخ.

[5] - Interview, New York, May 7.1993.

[6]- ستیو کول۹۶ مخ.

[7]- دیه گوکوردووز، سلیګ اس. هاریسن ۲۱۰ – ۲۱۱ مخونه.

[8] - L.V. Sheba shin Ruka Moskvy [The hand of Moskow] (Moscow, PP.206 – 14).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ